## بیلګې:

د اپارتمان څښتن له ایجرا یا ترانسجنډر ښځې څخه غوښتي دي چې د ملکیت په ګډو برخو کې ښځینه جامې وانه غوندي.دا عادلانه استوګنځای د قانون (FHA)څخه سرغړونه ګڼل کیږي چې په هغې کې جنسیتي تبعیض منع شوی دی.

د یوه ملکیت مدیر یوه اجاره کوونکي ته چې په ډېر احتمال سره ایجرا و، د یوه واحد په اجاره ورکولو څخه ډډه کړې ده.که چېرې د استوګنځای نه ورکول له جنسیتي پیژندنې سره د اجاره ورکوونکي سمون نه لرل وي، د FHAد اصولو تر چتر لاندې د جنسیت پر بنسټ غیر قانوني تبعیض ګڼل کیږي.

د کور څښتن یوې ښځینه متقاضي ته د اجاره له ورکولو څخه ډډه کوي، ځکه هغه نارینه جامې اغوندي او یو شمېر داسې فزیکي حرکات ترسره کوي چې په اصلي ډول په نارینه وو پورې اړه لري.دا د FHAلخوا د جنسیت پر بنسټ د تبعیض نه کولو له حکم څخه سرغړونه ګڼل کیږي.

یوه لزبین متاهله جوړه چې ماشومان لري د کورنۍ او غیر معمولي اړیکې د لرلو له امله د اجارې له ترلاسه کولو څخه محرومیږي.دا د عادلانه استوګنځای له قانون څخه سرغړونه ګڼل کیږي.

### <u>خپل حقونه وپیژنئ</u>

له جنسیت سره یو همغږي نه لرونکي شخص څخه غوښتنه نشو کولای چې استوګنځای ته د لاسرسي لپاره له ټولنیزو جنسیتي رولونو سره سمون ومومي.

د بیلګې په ډول، که چېرې په یوه غوښتنلیک کې نارینه دوه غوراوي وي، په دې صورت کې نشو کولای هغوی د جنسیت انتخاب کولو ته اړ کړو.
دوی کولای شي د هر یوه له انتخاب کولو څخه ډډه وکړي، مګر نشو کولای هغوی له استوګنځای څخه محروم کړو یا د دې اقدام د ترسره کولو له امله له دوی سره په متفاوت ډول چلند ترسره کړو.

**د HUDسرچینې:**
https://portal.hud.gov/hudportal/HUD?src=/LGBT_resources

که چېرې ستاسو د استوګنځای حقونه د نژاد، رنګ، ملي اصل، مذهب، **جنسیت**، معلولیت، کورني حالت یا مدني حالت، **جنسي تمایل، جنسیتي هویت**، د تقاعد شوي سرتیري یا وسلوالو ځواکونو کې د شمولیت د حالت، عقیدې، د کډوالۍ یا تابعیت د حالت له امله تر پښو لاندې شوي وي، نو په دې صورت کې اړیکه ونیسئ:

NORTHWEST FAIR HOUSING ALLIANCE
"Working to Ensure Equal Housing Opportunity for All"

35 West Main Avenue, Suite 250
Spokane, WA 99201
Ph 509-325-2665
1-800-200-FAIR (3247)
فکس 6308-376-866-1
www.nwfairhouse.org

Sex Discrimination In Housing
www.sexdiscriminationinhousing.org

هغه کار چې د دې خپرونې د خپرېدو لپاره یې زمینه برابره کړې ه تر یوې کچې پورې د متحده آیالاتو د کور جوړو او ښاري پراختیا وزارت (HUD)څارنې او مالي مرستې په واسطه یې ملاتړ ترسره شوی دی.
NWFHAپه دې خپرونه کې یوازې د بیانیو او په هغې کې د شاملو تفسیرونو د کره والي مسوولیت لري.
**- Pashhto**
انګلیسي– 8/2022




# IF YOU'RE EVICTED BECAUSE YOU'RE GENDER NON-CONFORMING, IT'S NOT ALWAYS THIS OBVIOUS.

CONTACT YOUR LOCAL FAIR HOUSING AGENCY TO HELP YOU READ BETWEEN THE LINES.

NORTHWEST FAIR HOUSING ALLIANCE
"Working to Ensure Equal Housing Opportunity for All"

**1-800-200-FAIR (3247)**
**www.sexdiscriminationinhousing.org**

## د عادلانه استوګنځای قانون
## د جنسي تبعيض پر وړاندې خونديتوبونه

د عادلانه استوګنځای قانون (FHA)په 1968 کال کې د نژاد، رنګ، ملي اصل او مذهب پر بنسټ د خلکو پر وړاندې د استوګنځای په برخه کې د تبعيض څخه د ساتنې په موخه تصويب شوی دی. په 1974 کال کې کنګرې د (جنسيت) پر بنسټ يو شمېر ملاتړونه اضافه کړل او په 1988 کال کې معلوليت او کورنۍ حالت (په کورنۍ کې ماشومان) پکې اضافه شو.

د وخت په تېرېدو سره، دا قانون د محکمو او HUDلخوا تفسير شو تر څو مشخص کړي چې د (جنسيت پر بنسټ تبعيض) بېلابېل شکلونو سره ترسره کېږي، چې په هغې کې جنسي ځورونه او جنسيتي ځانګړتياوې او د کورنۍ تاوتريخوالي څخه د ژغورل شويو او هغو کسانو چې له جنسيت سره سمون نه لري يا ايجړا وي، ساتنه ترسره کول شامل دي. په 2012 او 2016 کلونو کې دHUD جنسيتي هويت او جنسيتي تمايل څخه د ساتنې لپاره د HUDپه پروګرامونو کې يو شمېر اصول خپاره کړل. په 2021 کال کې، HUD اعلان وکړ چې د جنسيتي تمايل او جنسيتي هويت اړوند شکايتونه د عادلانه استوګنځای د قانون د خونديتوبونو تر چتر لاندې د لپاره قبلوي.

## د HUDاصول او لارښود

**په 2012 او 2016 کلونو کې HUDد جنسيتي هويت او جنسيتي تمايل څخه د ساتنې لپاره د HUDپه پروګرامونو کې يو شمېر اصول خپاره کړل.**

***جنسيتي تمايل يا هويت ته له پام پرته د HUDپه پروګرامونو کې استوګنځای ته مساوي لاسرسی***

د استوګنځای هغه چمتوکوونکي چې د HUDبوديجه ترلاسه کوي يا د استوګنځای د فدرالي ادارې (FHA)څخه بيمه شوي پورونه لري، د مساوي لاسرسي په اصولو کې شامل دي چې د شخص اصلي يا اټکلي جنسيتي تمايل، جنسيتي هويت يا مدني حالت ته له پام پرته د HUDپروګرامونو ته د لاسرسي حق لري.

**د مساوي لاسرسي اصل:**
https://portal.hud.gov/hudportal/documents/huddoc?id=12lgbtfinalrule.pdf



***له جنسيتي هويت سره سم د پلان جوړولو او د ټولنې د ودې د قانون پر بنسټ مساوي لاسرسی - 2016***

د جنسيتي هويت قانون تضمينوي چې ټول خلک د کور جوړونې وزارت د سرپناه له اصلي پروګرامونو سره سم او د خپل جنسيتي هويت پر بنست د مساوي لاسرسي حق لري. ... **د يوه جنسيت** پر بنسټ **پروژې** چې د ټولنې د پلان جوړولو او ودې د دفتر (CPD)له **لارې بوديجه ترلاسه کوي، د قانون پر بنسټ اړ دي چې ايجړاګانو او نورو هغو کسانو لپاره چې د زيږېدو له وخت څخه يې جنسيت نه وي په ګوته شوی، د خپل جنسيتي هويت سره پروګرامونو،** ځتو، خدمتونو استوګنځای ته لاسرسي **ولري، پرته له دې چې له مزاحمت کوونکو پوښتنو سره مخ شي او يا ترې وغوښتل شي چې اسناد وړاندې کړي.**

**د جنسيتي هويت اصل:**
https://www.federalregister.gov/documents/2016/09/21/2016-22589/equal-access-in-accordance-with-an-individuals-gender-identity-in-community-planning-and-development

***د جنسيتي هويت يا تمايل پر بنسټ له تبعيض څخه مخنيوی يا له هغې سره مبارزه کول - 2021***

*د Bostock v. Claytonپه کاونټي کې...محکمې اعلان وکړ چې د VIIسرليک له مخې د تبعيض منع کول جنسيت په سبب د جنسيتي هويت او تمايل پر بنسټ تبعيض تر پوښښ لاندې نيسي. د Bostockد استدلال پر بنسټ، هغه قوانين چې جنيستي تبعيض منع کوي...د جنيستي هويت يا تمايل پر بنسټ هويت هم منع کوي...*

**د Wordenيادښت- 2022**

HUDته حکم کوي چې د 13988 شمېرې اجرايي حکم څخه پيروي وکړي او جنسيتي تمايل او هويت په ګډون تبعيض جنسيتي تبعيض په رسميت وپېژني.

ww.hud.gov/sites/dfiles/PA/documents/HUD_Memo_EO13988.pdf